ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 3, Issue 2, (April to June 2022)**
ماخذ تحقیقی مجلہ

**اسسټنټ پروفېسر شکریه قادر**
**عبدالولی خان پوهنتون، مردان**

# ارزاني خوېشکي زمند د پښتو منظوم الف نامې امام (یوه څېړنه)

**Dr. Shukria Qadir**
Assistant Professor, Pashto Department Abdul Wali Khan University, Mardan, Khyber Pakhtunkhwa, Pakistan

## An overview of Arzani khaishki Zamand as Imam of Pashto Alifnama

Alif nama or See Harfi is a well-known genre of poetry. This genre belongs to Persian literature and came from Persian to other Eastern languages. Subjects of this genre are mostly related to ethics or mysticism. In case of Pashto literature also this genre came from Persian literature and achieved such a status that now it is considered as genre of Pashto literature in its own place. In Pashto poetry, many poets have tried their hand at this genre. They have been created many wonderful Alif namas, which are the great examples and rich sources of knowledge, mysticism and Sufism. This article discusses the Alif namas of Mula Arzani khwaishke, the first Pashto poet of Alif nama and sheds light on his thoughts and art.

**Key Words:** Alif nama, genre of poetry, literature, ethics, mysticism, Sufism.

پښتو کښې د الف نامې روایت د لرغونو وختونو راسې شتون لري، دغه روایت د فارسۍ په لار پښتو ته راغلې دے. په دې چې په فارسۍ کښې د پټۍ او ابجد د ټکو شمېره دېرېشت ده، ځکه ورته " سي حرفي " یعنې دېریشت حرفي وئیلې شي.پښتو کښې ورته د سي حرفي سره سره الف نامه هم وائي، چې دلته ئې د یو صنف شکل ئې اختیار کړې دے. دې کښې نثار یا شاعر د الف نه تر "ي" پورې په هرحرف نثري یا منظوم وینا کوي، دغه بیان په عمومي توګه د سلوک او عرفان ، پند ونصیحت مضامین لري. په پښتو نثر کښې ئې سر د مخزن الاسلام نه انښلي چې انداز ئې مقفي" او مسجعي' او په منظوم ادب کښې دغه اولیت ارزاني خویشکي زمند ته حاصل دے.

د الف نامې په حقله ډاکټر عبدالمجید مېمن لیکي

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 3, Issue 2, (April to June 2022)**

ماخذ تحقیقی مجلہ

"دا نظم په بېلا بېلو بندونو اړه لري، او هر بند د الف نه تر ي پورې د يو يو توکي نه شروع کېږي ، په هر بند کښې اکثر څلور مصرعې وي." ۱

2 د پنجابي او پنجاب په پانه د سي حرفي په لړ کښې ليکلي شوې دي چې
""دپنجابۍ شاعران د دېريشت شعرونويو نظم ليکي هغې ته سي حرفي وئيلې شي. ""۲

يو بل ځاے ليکي چې

“In Punjabi, this means that a literal poem is written in four syllables. And in the last stanza, the poet writes his name:۳ .

ترجمه: په پنجابۍ کښې ددې نه مراد هغه حرفي نظم دے چې په څلور کړو کښې ليکلې شی، او په اخري بند کښې ئې شاعر خپل تخلص پکاروي.

د مختيارصديقي د ليکنې تر مخه سي حرفي څه ته وائي؟

سي حرفي د پنجابۍ شاعرۍ يو مشهور صنف دے، دې کښې دا التزام کولې شي، چې د ابجد په هر حرف د څلور مصرعو يو قطعه ليکلې شي. په دغه قطعاتو کښې د موضوع څه قېد نه وي.د ژونديوه تجربه، د کائناتو دمشاهدې څه کېفيت، يو احساس، يا د يوې جذبې څه اړخ په دې قطعاتو کښې په څلور مصرعو کښې رانغښتلې شي.او په عمومي توګه په اخري مصرع کښې شاعر خپل تخلص په دې رعايت سره راولي چې نه يوازې په شعر ئې ملکيت ښکاره کړي بلکې کله کله خپل ځان ته يا انسانيت ته 3

3

مخاطبه کوي په داسې حال کښې چې خپله خبره مستنده وګرځوي يا پخپله تجربه او مشاهده د ځانګړې نوعيت ثابت کړي.

دغه شان د هيئت له مخه په پنجابی شاعرۍکښې چې کومې سي حرفيانې دي په هغوي کښې هر بند داسې شروع کېږی چې وړومبے حرف ئې خاص التزام لري،

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 3, Issue 2, (April to June 2022)**



دغه د ابجد په ترتیب سره راوړلي شي. د مثال په ډول وړومبے بند الف د الله نه شروع کېږي نو اخري بند به په ي يعني يثرب ختمېږي. په څنو سي حرفيو البته دا رعايت اينودلې شوې وي، چې په يو حرف ديو نه زيات بندونه تړلي شوي وي او په باقي حروفو محض يو قطعه وي. ۴

د الفنامي د موضوعاتو او فن په حواله د ريخته پانه کښې ليکي چې په سي حرفي يا الفنامه کښې اخلاقي، مذهبي او صوفيانه خيالات موضوع جوړولې شي.خو ددې سره سره د ژوند نور موضوعات هم پخپل ځان کښې د رانغښتلو صلاحيت لري. ددې اغاز د حمد ، نعت ، منقبت په عنواناتو کښې د قطعاتو په شکل کښې کولې شي. د حروف ابجد په اعتبار سره ددې منطقي ترتيب د" آ" نه شروع کېږي او ددې لاندې چې څومره هم مختلف عنوانات راځي د يو بل ربط او تسلسل سره پکښې دغه قائم ساتلې شي. الفنامه د هيئت او فن له رويه ګنجلکه نه ده بلکې په ساده انداز کښې د فلسفي ژورتيا بيانولې شي.۵

4

کېفي جامپوري د سرائيکي شاعرئ د سي حرفي په حواله ليکي:

"اس کا موضوع یاد الٰہی اور دنیا کی بے ثباتی ہے- آج سے تیس چالیس سال پہلے
گداگر لوگ یہ سی حرفی گلی گلی گایا کرتے تھے" ٦

ترجمه ددې موضوع د الله ياد او د دنيا بې ثباتي ده. د نن نه دېرېشت څلوېښت کاله اګاهو به سوالګرو په کوڅو کښې سي حرفي وئيله .

د الف نامي يا سي حرفي د قدامت اولرغونتيا په لړ کښې د سندهي ادب پوهان موهن لعل دا دعوی لري چې

"Although one cannot rule out the possibility of the existence of this genre even before Shah Abdul Latif, so for we have not been able to trace it before him. Therefore, it might be said that this genre had been current in Sindhi for about two hundred and fifty years. The first

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 3, Issue 2, (April to June 2022)**



"Siharfi" in the persian form is from Mullah Sahib Dino"۷

ترجمه: اگر چې د شاه عبدالطیف نه وړاندې ددې صنف د شتون امکان نه شي رد کېدلې. خو مونږ ددې جوګه نه یو چې د هغه نه وړاندې ددې څه درک ولګوو.دا تقریبا" دوه نیم سوه کالونه په سندهی کښې موجود ده. وړومبی سي حرفي په فارسی کښې د ملا صاحب دینو ده.

ولې عبدالغفور قریشي "پنجابي ادب دی کهانی" کښې د الفنامي د روایت په لړ کښې دا رنګ لیکي:

"حضرت داؤد (ع) (۱۰۴۰ - ۹۷۰ ق م) نے پہلی سی حرفی لکھی تھی جو عہد نامے میں موجود ہے- گورو ارجن دیو اور بگھت کبیر باون (۵۲) حرفی لکھنے والوں میں پہلے لوگ ہیں- گورو نانک (۱۵ اپریل ۱۴۶۴- ۲۲ ستمبر ۱۵۳۹) ۳۵ حرفی کے بانی ہیں ۳۷ حرفی کے بانی حضرت سائیں

5

مولا شاہ ہیں- حضرت داؤد (ع) کا دور قبل مسیح کا تھا اسلئے ہم فیصلہ کرنے سے قاصر ہیں کہ وہ کتنے حرفی تھی"۸

ترجمه: "حضرت داؤد ( ع) (۱۰٤۰ –۹۷۰قم) وړومبی سي حرف لیکلي وه ، کومه چې په عهد نامه کښې موجود ده. ګورو ارجن دیو او بګهت کبیر هغه خلق دي چا چې په وړومبي ځل ۵۲ حرفي لیکلي دي. ګورو نانک (۱۵ اپرېل ۱٤٦٤- ۲۲ ستمبر ۱۵۳۹) د ۳۵ حرفي بنسټ ګر دے. او حضرت سائيں مولا شاه د ۳۷ حرفي بانی وه، د حضرت داود (ع) دور د قبل مسیح وه، ځکه نو دا نه شو وئیلې چې څو حرفي وه .

دغه شان ددې د تاریخي شالید په تړخ کښې ډاکټرلاجونتي خپل خیال داسې څرګندوي -

"Siharfi is an acrostic on one alphabet. It is not found in any other Indian language as it is not of Persian or Arabic origin we conclude that it is a Punjabi form. The oldest verse of this kind is found in the

Adi Granth of the Sikhs and was composed by Arjun Dev. Later on it appears to have become a popular verse –form of the Sufis"۹

ترجمه : سي حرفي د پټې د يو توري معمه ( دونه) ده ، دا د هندوستان په بله يوه ژبه کښې نه شي بيامونډلې ځکه چې دا عربي او فارسي نه ده، مونږ په دې نتيجه رسو چې دا دپنجابۍ يو شکل دے. ددې قسم د ټولو نه يو لرغونے ايت د سيکانو په آدي گرنتهـ کښې شته، او دغه ارجن ديو مرتب کړې وه. وروسته داسې ښکارې چې دا د صوفيانو يو مقبول نظم وګرځيد.

ددغه بره حوالو په ترڅ کښې دا يوه خبره ضروري سپينول غواړم چې سي حرفي يا الفنامه نه خو د پنجابۍ ځانګړے صنف دے او نه دوه نيم سوه کاله قدامت لري بلکې دا صنف د لرغونو وختونو راسې په مختلفو ادبياتو کښې يو راروان روايت لري او لکه څنګه چې وړاندې ذکر وشو

6

په پښتو کښې اول ځل په نثر کښې اخون درويزه بابا او په نظم کښې ارزاني خويشکي الف نامه يا سي حرفي ليکلې ده. په دې حقله دانشمند بريښ ليکي

"په پښتو کښې د الفنامو د بنسټ ډيره هم لومړي ځل روښانيانو ايښې ده، او ارزاني روښاني لومړني شاعر دې، چې په وينا کښې ئې الفنامې راپاتې دي. پرروښانيانو سربيره درويزيانو هم لکه چې په هر څه کښې د روښانيانو پيښې کولې هم دا راز ئې الفنامې هم ددوي په تقليد کښې رامخې ته کړې." ۱۰

د اخون درويزه بابا د زوي کومه الفنامه چې په مخزن کښې درج ده د هغې په بابله ميا تقويم الحق کاکاخيل ليکي

"د کريمداد الفنامه علمي اعتبار سره ډيره درنه او ادبي اعتبار سره ډيره خوږه ده" ۱۱

د اخون درويزه بابا په اولاد کښې عبدالحليم اثر او مصطفٰی محمد هم په صنف طبع ازمائي کړې ده،د لوے محقق محمد اصف صميم د څيړنې تر مخه :

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 3, Issue 2, (April to June 2022)**

ماخذ تحقیقی مجلہ

" عبدالحليم دوه الف نامې ليکلي دي يوه مکمله او بله
نيمګړې ده او د دوو تورو صرف د "ش" او "غ" په
غزليزه کښې شرح شوې ددي-او د عبدالحليم او
دمصطفٰی محمدالفنامې همدمخزند ښکلاباعثدي- اود
[د،ق،ل،هـ،لا، ی] توري پکښې شاملدي-" [۱۲]

ددغـه علمـي دور نـه پـس پـه پښـتو شـعري ادب کښـې نـورو راتلونکـو شاعرانو هم الفنامې وليکلي او دے صنف ته ئې وده ورکړه په دغه روايت هم محمد اصف صميم داسې رڼا اچولې ده .

7

"" چې په هغوکښې حافظ الپوری،معظم شاه،
لوےاحمدشاه بابا او د کلاچیاحمددیادولووړدي-
دويم د پښتوژبې تصوفي شعري ادب کښې خپله
خپله حصه اچولې ده-" [۱۳]

دپښتو د شعري الفنامې اغاز د ۹۹۰هـ نه کيږي ، خپلـه ارزانـي خوښـکي وائي

فقيرکوښلےدےداشـــــــــــــــــعر
پـــــــــــــــــــه نـــــــــــــــه
صـــــــدنـــــــودســـــــــــــــنه دے [۱۴]

نهـ صد نو نه مراد ۹۹۰ هـ دے ،دغه شعر د ارزاني خوښکي ددوئيمې الفنامې دے.په دغه بنياد ددې خبرې په راوړلوکښې هيڅ باک نشته چې د پښتو د شعري الفنامې امام ارزاني خوښکي دے او هغه د الفنامې پېلات د ۹۹۰ هـ نه کړی دے.

ارزاني خوښکي ټولې پنځه الفنامې ليکلې دي . دلته ددغه شعري الفنامو نثري تلخيص وړاندې کووم چې د ارزاني خوښکي ددې صنف دفکروفن اندازه ترې ولګي. هغه په خپله وړومبی الفنامه کښې چې څه وئيلي دي، نچوړ ئې په دا ډول دے.

د ارزاني خوېشکی دا وړومبۍ الف نامه اته دېرشت اشعار لري. دا يوه ترغيبي الفنامه ده.چي شاعر پکښې وړومبے د هر حرف سره د الله صفات بيانوي او وروسي دا هغه د بندگۍ ترغيب ورکوي. وائي چي الله يو دے طاعت هغه له ښائي، د کائناتو خالق دے ، ژوند بخښونکے دے، هر څيز ئې ثنا خوان دے ، ځکه نو په مخلوق د هغه عرفان حاصلول فرض دي، او بې دليله ئې منل ښائيږي. دغسي د تزکيه نفس دپاره خفي ذکر کوه، دا د باطني پاکۍ زکوات دے. قلب السير کوه، د هغه ذات د رضا طلب شپه ورځ کوه،

8

ځکه چي الله تاسره ډېرنزدے دے.شرک مه کوه بلکې د نفي اثبات په توره دنفس محاسبه وکړه. ځان د مرگ نه مخکښې اووژنه . الله محيط دے، خبير او عليم دے. ارزاني چي څه وئيلي دي دا ئې د زړه له چراغه رڼا اخستې ده هم له دې وجې نه ئې کلام لکه د فندو هسې خوږ دے.١۵

په دغه الفنامه کښې د الله دجمالي صفاتو او سالکانو ته د ترغيب نه علاوه دوه نکتې داسي دي چي هغې ته پاملرنه ضروري ده. يوه داچي په يو شعر کښې ارزاني وائي

(ف) فــــــاني شـــــــه حــــــق بـــــــاقي دے
پخــــــــوا ومــــــــره لــــــــه مماتــــــــه١۶

.

هم دغه شعر رحمان بابا په نورو الفاظو کښې داسي بيان کړے دے.

پــه ژونــد ومــره چــي د مــرگ لــه غمــه خــلاص شـــے
اســـان كـــار دې كـــړو پـــه ځـــان بانـــدې گـــران ولـــې١٧

.

داسي ښکاري چي يا خو رحمان بابا ددغه شعر نه استفاده کړې وي .او بره ذکر شوې شعر ئې وئيلي وي او يا دواړو دا حديث مبارک په شعر کښې رانغښتي دے چي

**موتوا قبل أن تموتوا** ١٨

. دويمه نکته په يو بل شعر کښې داده چي

(ن) نـــــايي هـــــر صـــــورت نـــــی کـــــه
پـــــه هـــــر دم کـــــا ځـــــو نغماتـــــه۱۹

9

په دې شعر کښې ارزاني خويشکي " نے" او " نائي " دوه اسمونه استعمال کړي دي. زه په وثوق سره ويم چې تر اوسه پورې به چا د " نائي" دغه وجه تسميه نه وي رامخې ته کړې چې نائي ګڼي د " نے " نه مشتق دے. دلته داخبره ثبوت ته رسي چې " نے " وهونکي ته " نائي" وائي . څه هم وروسته د " نے " په ځائے "سُرنے" يا سُرنا راغلي ده او نائيانو هغه وهلې ده خو منبع ئې يوه ده..

دويمه الفنامه

دا الفنامه د الف د پټې اشعار نه لرې داسې برېښي چې دغه برخه ترې ضائع شوې ده، بهرحال نوره ټوله الفنامه د ارزاني په کليات کښې موجود ده، ددې الفنامې نثري لنډيز څه په داډول دے.

د اسلام مقصود کعبه ده بې مثله او بې رنګه دے دوحدت رانې ئي لنګه ده او اسلام او کفر ئې دوه وزرې دي ، د مومن مقصود کعبه ده او کافر ګنګا ده.په هر چا کښې په زړه کښې غزوني کوي ، اصل کښې د دغه يوه شها ده ، د عود او چنګ نه دغه يو اواز راځي چې که ته د زړه ائينه صيقل کړے او د انا د خول نه رااوتې نو تاته به دغه شها په ډاګه راښکاره شي ،د وحدت درياب ته ورودانګه د نهنګانو نه مه وريږه، د ارزاني په در ګوهر وينا عمل وکړه، دا در ګوهر په کانومه ماتوه. هغه په لورې ليدې شي ، کله چې د وحدت نمر راوخېژي ، نو ټول ستوري پټ شي ، ښاپيرک ترې تښتي ، د شاه ذکر کوه ، د ګمان پيټي مه پسروه ، هغه تاته د شه رګ نه هم زيات نزدے دے. که د زړه تخته دې توره نه وي نو هغه ستا په زړه کښې دے بل چرته پسې مه ځه.د غفلت له خوبه پاڅه ، شها ستا په سر ولاړه ده. که ته پسې محنت نه کوے رياضت نه کوے نو بيا موندل ئې ګران دي. د دنيا ناوې درته ځان ښائسته کوي ، سينګاروي ، حالانکې ګټه تاله حقيقي شها درکولې شي. غافله کېږې مه، د ذکر په تېره توره د زړه پرده وشلوه ، په نفي اثبات يعني کلمه طيبه د زړه دننه خزينه حاصله کړه ، ته بل ځائے مزدورې مه کوه، دغه ستا بس ده، بل ځان د چار عناصر د کثافتونو نه ازاد کړه ، د ګمانه حصار مات کړه نو ته به بې جونه بې چګونه ذات اووينې ، ته په ساه ژوندے ئې او سا ه تاته خدائے درکړے دے لږ په خپل وجود سوچ وکړه، نو

10

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 3, Issue 2, (April to June 2022)**

ماخذ تحقیقی مجلہ

تاته به د الله قدرت درښکاره شی، عرفان به درته نصیب شی، د ژبې نه دلړم لشه مه جوړوه، ته انسان یې ، ځناور نه یې . شریعت د حقیقت پرده ، حقیقت په شریعت کښې مخفي دے ، شریعت صورت دے او دې صورت کښې معني' حقیقت دے ، داسې ده لکه په مېوه کښې چې خوندپټ دے. که دانا ئې نو د توحید سودا وکړه دغه سودا دې سودمنه ده، توحید تاته ستا د مرۍ د رګونو نه زیات نزدے دے ، د مرشد په وینا عمل کوه ځکه چې دا دزړه کنجي ده،اصل طهارت د دل اودس دے. ددرویش په دغه اودس د زړه نه غبړ لرې کېږي او کوم چې دوبین وي نوهغه محض د ځان د ظاهري صفائي دپاره اودس اختیاروي ، ظاهري صورت لکه کمیس دے او دې کمیس کښې زړه لکه د رئیس دے، دغه رئیس په ښه او بد دواړو اختیار لري، ولې ښه رئیس هغه دے چې ذکر کوي.کوم زړه چې الله یادوي هغه که سپین زر ولې نه سره ترې جوړ شي. دا عالم د اوبو په مثل دے، او هر انسان پکښې لکه حباب دے ، ټول مخلوق هم ددغه دریاب نه عبارت دي، څوک چې دغه دریاب نه وینې .د غفلت د تیارو نه رااوځه او د توحید مېوه تر لاسه کړه، زاهد مه جوړېږه چې دشها طمع سبالري ، بلکې غارف شه چې هم نن شها غواړي ،ته معرفت د شها خپل ئې ، ولې ته عبث په نورو کښې مشغول یې.د هر چا پیداکوونکے هغه دے ، او په هر چا نظر لري، لاس په لاس سودا ده، بس ته ترې وغواړه ، هغه ته د مرۍ د رګونو نه هم نزدې دے. تا پخپل لغزش شها بائیللې ده، بیا ورته رجوع وکړه، د ځان نفي وکړه نوشها به بیامومې،دل آزار مه جوړېږه، دې دنیا کښې د خلقو د همدردۍ سودا وکړه. شها لره د دواړو کونو بادشاهي ده، هغه هرځاے تجلي کوي ، ولې احول ئې نه وینې ، د نفي اثبات ورد کوه ، ځان پکښې ډوب کړه، د هستۍ بت دې پرې مات کړه، که داسې دې وکړل نو هر عمل به دې قبول شي.هره ورځ به دې د اختر شي او شپه به دې د شوقدر وګرځي

دې بره الفنامه کښې د تصوف د رموزو نه علاوه د مسلمان د پاره مقصود کعبه ګرځولې شوې ده او د کافر دپاره ګنګا ، دکعبې سره که د مندر ، درمسال، ګرجې یا کلیسا ذکر شوې وې نو ډېره مناسب به وه، ځکه چې ګنګا د هندو دپاره خاص ده او ذکر دغلته د کافر شوې دے.

"" ګنګا د شمالي بهارت او بنګله دېش یو مهم سیند دے.
دا سیند د هندو مذهب دپاره ډېر ستر حېثیت لري، مقدس
ئې ګڼي ."" ۲۰

11

پـه يـاده الفنامـه کښـي د چنـګ او عـود تـذکره هـم راغلـي ده ، چـې توضـيح ئـې ضروري ګڼم ځکه چې اکثر خلق ددغه شيانو سره اشنا نه دي .

"چنګ د ستار يو قسم دے چې د باجې ځانګړني لري او برنۍ برخه ئې راکاږه وي. دغه شان عود د ساز يو قسم دے چې بربط ورته هم وئيلې شي " ۲۱

ددريمې الفنامې نثري لنډيز

د بسم الله نه شروع کووم کوه بيا درود وايم، چې په ابتدا کښې هيڅ هم نه وو، کائينات نه وه، الله يو مخفي ګنج وه، د محمد (ص) له محبته ئې خپل ځان ښکاره کړو، الله دېريشت حرفونه پيدا کړل، او په هر حرف محيط شو.الف نه الله او احمدجوړيږي ، الله په محمد (ص) په رمضان کښې قران نازل کړو. ب لفظ نه مراد بنده دے،او د بسم الله په سر کښې هم راځي،

ت نه مراد تن دے، ( مهجور صيب دغه ځاے ( ئې دا) ډک دے چې سم نه ښکاري ، ث ثنا د هغه ثابته ده،الله په هر وجود کښې پټ هم دے او ښکاره هم دے ، ج جسم دے چې قديم دے.او د ميم جادو پرې شوې دے، انساني وجود د خاک نه جوړ دے، چا چې د توحيد شراب نوشلي وی هغه د شها صورت وينې،دشها قربت د عرش کرسي نه زيات قيمتي دے،قربت به درته په ذکر حاصليږي، دغه قربت ته کور بيامونډې شــے په عرش کرسي کښې ئې مه ګوره، د الله ديدار هغه دپاره دے چې د سره تېر شوې دے ،جسم د ګوهرو او جوهرو نه جوړ دے ، اود حق بندګي پرې فرض ده،

ځان کښې عزت نفس پيدا کړه بل ته لاس مه نيسه څه چې درته حاصل دي په هغې قناعت راوړه، د ځان نه کارغه مه جوړوه چې مرداري ته هوس

12

کوې،روح دي پاک ساته، ځان کښې خودي پيدا کړه که ته په رسم د شها التفات غواړې نو په دې عمل پورې

عارفان توقي كوي،د الله طلب په خوله او زړه دواړو كوه،د زړه په كور كښې ئې لټوه ځوک چې پسې پهر اووځی هغه ئې نه شي بياموندلي، كه څومره عقل پوهه اوعلم لري خو د هغه ذات بنده او مريي يي، چشت ته مه ستا مقصود ستا په كور كښې دے، ستا زړه د جليل كور دے هم ددې نه طواف كوه، كعبه خو هغه كاڼي دي چې ابراهيم (ع) اېښودي دي،د هغه د قوت سيال نشته ، خپله ټوله توجه هغه پله وګرځوه، ځكه چې ستا وجود ستا تخليق د هغه د خاليقت لوے دليل دے، هغه د متقيانو هادي دے، متقيان دغه يقين لري او دا يقين ئې د پير كامل په تلقين جوړ شوې دے.خپله انا ختمه كړه هله به درته حق وصل نصيب شي،د الف نه تر " ي " پورې دغه ټول ټكي د حق په ثنا ګواهي وركوي، دغه دېرېشت ټكي د دين له چراغه دي ،او د احمد نبي له باغه دي چې د هغوي (ص) بلبلان ئې وائي، پيټے ئې د نبي (ص) دے او مېوه د علم لدني ده، د قران هم دېرشت پارې دي او د طالبانو لاربښودنه كوي كه الف اب الهي' دي نو ددغه اب ماهي ميم دے، ارزانی د عربی مطالب په په پښتو بيان كړل ، خو په دې به زنده دل پوهېږي . ۲۲

څلورمه الفنامه كښې د اسلام په پنځه بناء ليک شوې دے. ارزاني وائي د اسلا م پينځه بناء دي ، فقير بيان كړي دي ، اول كلمه ده، دا د اسلام بنياد دے، وئيل ئې فرض دي، لكمه داسې ونه ده چې ښاخونه ئې اسمان ته رسېدلي دي او بېخ په زمكه كښې دے، دا ونه د زړه په كور كښې نهاله كړه د توحيد له جماله به مستفيد شې، د نفي اثبات ورد كوه چرته به هم ونه مرې،دا هنر صرف د عارف په برخه كېدې شي. دويم ركن ئې نمونځ دے ، داد الله سره راز دے، بيا په په مونځ كښې تكبير ، قيام، قرات، ركوع، سجده او قاعده ده، مونځ د عارفانو خاصه ده، او هغه څوک به مونځ كوي چې د ابليس خلاف د آدم (ع) سره پټ پالي، دريم بناء روژه ده ، فرض ده،

شمار ئې دېریشت ورځې دے. د روزې ارزښت په شب قدر کښې دے.روژه کښې سحر نه تر ماښامه خوراک څښاک ممنوع دي، عارفان په روژه سره نفس قابو کولې شي، د اسلام څلورم رکن زکوات دے، په هغه چا فرض دی چې صاحب نصاب وي، دا په کال کښې يو وار ورکولې شي او د مال پاکي پرې راځي، ددنيا د مينې مثال د منږک دے که د زړه په کوهي کښې دې دغه منږک پروت وي ، نو څنګه به ستا د زړه کوهے پاک شي، د اسلام پنځم بنياد حج دے، چې حج ادا کړے له اوره به نجات بيامومي، حج کښې اول شرط احرام دے، بل د عرفات غونډۍ ته تلل دي، دريم شرط پرې د دم راتللو نه پس د هغې ادا کول دي، د خليل د کعبې حاجيان ډېر دي، د جليل د کعبې حاجيان کم دي،بل شرط طواف دے چې د بخښنې سوب ګرځي، ريښتونے حاجي هغه دے چې د جليل په کعبه داخل شي او د جليل کعبه د مومن زړه دے، دغلته دده حاجي اکبر کېږي، د حق سره به ملاقي شي او د زړه نه به ئې د غېر تيارې محوه شي۲۳

اخري او پنځمه الفنامه کښې د روښاني تصوف د اته مقاماتو تشريح او توضيح کړې شوې ده ددغه الفنامې تر مخه ذکر د زړه تزکيه کوي، فقير دا خبرې د زړه د کومې په پښتو کښې رابهر کړې، طالبان دې دا خبرې په غور سره واوري، د زړه ائينه دې پرې د دنيا د ښيرې وينځي، فقير په پښتو ژبه د تصوف اته مقامات بيا ن کړي دي، دغه مقامات وړومبې په شريعت ، طريقت، حقيقت او معرفت اړه لري ، په دې مقاماتو کښې يو سالک د ابليس سره دښمني کوي او د ادم (ع) سره پت پالي، دې نه علاوه قربت، وصلت ، وحدت او سکونت دے، شريعت نه ئې اغاز کېږي، سوز او ساز ئې طريقت دے، د زړه حال حقيقت دے او معرفت کښې ئې رازونه پټ دي. قربت کښې نزديکت دے وصلت د فاصلو پامته

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 3, Issue 2, (April to June 2022)**


دار دے ، وحدت کښې دوئي نشته او سکونت د د خوش خلقۍ نه عبارت دے. دا د شریعت خلعت دے او چې دا واغوندې نو د بدعت به پاک شي. شریعت د پنځه ټکو نه جوړ

14

دے، شرم،د الله نه پکار دے، ر ، روا کارونه کوه، ي د الله یاري کوه، ع دهغه عبادت کوه، ت توبه د نواع نه کوه، د طریقت هم پنځه حروف دي، دا ټول حروف په مشقت اړه لري، ط د طوق د بندګۍ په غاړه کښې لره، د قیامت د شرمندګۍ نه به بچ کېږې، ر ریاضت د تن کوه، دغه ریاضت به دې اصل مقام ته رسوي، ي یون شپه او ورځ کوه د نفس مه منه،ق قدم په راستۍ اخله ، او نیکي کوه، ت تن پاک لره او دغه پاکي به هله راځي چې د روح مني ،د حقیت هم پنځه ټکي دي ، او خپل مقام لري، ح د زړه درون حال دے، ق قلب زړه په ذکر خفي او جلي پاک ساته، ق قالب د بدن په روح ژوندے دے، ت تن د بدو وساته هر وخت ئي په ذکر کښې مشغول وساته، د معرفت پنځه حرفونه دي، م نه مراد مخ دے د هغه مخ هر لور ته دے، او په هر مخ کښې لیدې شي،ف فاني في الله شه که هغه لیدل غواړے، ت نه مراد تن دے، کوم تن چې د حق عرفان ترلاسه کړې دے، حق دغه تن ته راغلي دے. قربت څلور منزله دے ، صفتي هم دے او مکاني هم دے، د هندو او مسلمان دواړو سره یو شان نزدې دے. ر د حق رو دے ، ب نه د حباب بند دے چې د دریاب نه دے که دغه غوټۍ ماته کړې شي نو بیا به د دریاب برخه وګرځي. ت تن که ویلې کړې شي نو د بل د جستجو نه بې غمه شي، و وصلت دے چې په څلورو خصلتونو اړه لري، که په نفس لته کېږدې نو د وصلت نه به خبر شي، نفس نفي کړه نو واصل به شي،ص صیقل کړه د زړه ائینه نو د مولي' سره به واصل شي، ل د لا نفي په توره د زړه پردې لرې کړه،

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 3, Issue 2, (April to June 2022)**

بیا به داسي واصل شي لکه د رڼا سره چي سایه وي.
ت تاریک شه د خپلي انا او خودیٔ نه ، دا به تا د وحدت اعلي' مقام ته ورسوي، بیا  د وحدت هم څلور مقامونه دي، و واحد دے ، احد دے او د ستائېني جوګه دے،ح په موحد باندي خودي حرامه ده، که دے د ځان نفي نه کوي نو بیا موحد نه دے، دې نه پس سکونت دے سکونت کښي پینځه حرفونه دي، سکونت د مولي' خزانه ده،س ئي سوګند دے چي  ک ئي کمال

15
دے او که کمال غواړې نو تخلقوا با خلاق اللهیعني خپل اخلاق د الله په  اخلاقو متصف کړه،
"داسماء الهیه په دوه ډوله دي.یو  هغه دي چي د هغي نه مخلوق ته لږ شان او اندازه په برخه کېږي.ددغه صفات به انسان په خپل ځان کښي د امکان ترحده راپیدا کوي، او ددغي نه مراد "" تخلقوا باخلاق الله " دے. د مثال په ډول  روف ، رحیم ، غفور، ودود او داسي نور.""۲۴

"و "  وئیلي نبي (ص) دي چي الله دې زما حشر د مسکینانو سره وکړي،  " نو ن " نیستي حاصله کړه ، یعنی د ځان نفي وکړه،  ت   توبه د ما و من کړه یعني د ځان ستائیني نه توبه وکړه او   ت تمام زما دا وینا په دې ده، چي سکونت ستر مقام دے ۔۲۵

حواله جات

۱: عبدالمجید مېمن ، سندهي، ډاکټر،لسانیات پاکستان، مقتدره قومي زبان و ادب اسلام اباد، ۱۹۹۲، ۳۳۹ مخ
۲:http://punjabiandpunjab.com
۳:https://theresearchidea.wordpress.com
۴:https://web.facebook.com/mukhtarulhaqsiddiqu
۵:https://www.rekhta.org

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 3, Issue 2, (April to June 2022)**
ماخذ تحقیقی مجلہ

۶:ا نعام الحق جاوید،ڈاکٹر، پنجابی زبان وادب کی مختصر تاریخ،اسلام آباد،مقتدرہ قومی زبان،۱۹۹۷،ص ۳۲۳

۷ :Muhan Lal, Encyclopedia of Indian Literature, Dehli, Sahatya Academy, 1992, P-4046

۸:انعام الحق جاوید،ڈاکٹر،پنجابی زبان وادب کی مختصر تاریخ،اسلام آباد،مقتدرہ قومی زبان،۱۹۹۷،ص ۳۲۲

۹:امجد رضا،سرائیکی میں سی حرفی کي روایت(تحقیقي مقاله ایم فل)،اسلام آباد،علامہ اقبالاوپن یونیورسٹی، ۲۰۰۹ء،ص ۱۰- ۱۱

۱۰: دانشمند برېښ، د واصل روښاني الفنامي ، کابل مجله، کال ۱۳۶۰ هـ ش ۳۰ او ۳۱ مخونه

۱۱: اخون درویزه بابا، مخزن، مقدمه سید تقویم الحق کاکاخیل، پېښور، پښتو اکېډيمي پېښور ، اول چاپ،۱۹۶۹، عز مخ

۱۲: آصف صمیم، محمد،پښتونامي ،دانش خپرونديه ټولنه،۲۰۰۶، مخ ۱۰

۱۳:آصف صمیم،محمد، پښتو نامي، دانش خپرونديه ټولنه،۲۰۰۶، مخ ۱۵

۱۴: پرويزمهجو، ډاکټر، دارزاني خوېشکي کليات، جدون پرنټنګ پریس، پېښور، پښتواکېډيمي پېښور،جون ۲۰۰۵ء،مخ۱۵۵

۱۵: پرويزمهجور،- ډاکټر، دارزاني خوېشکي کليات، پېښور، جدون پرنټنګ پرېس، پښتواکېډيمي پېښور،جون ۲۰۰۵ء،۲۳۶-۲۳۹ مخونه

۱۶: هم دغه اثر ، ۲۳۸ مخ

۱۷: مومند، عبدالرحمان، د رحمان بابا کليات، از دوست محمد خان کامل او قلندر مومند ، افغان پرنټرز کابل ، س ن ،۳۷۲ مخ

۱۸ : https://www.basaer-qom.com

:۱۹
پرويزمهجور،اکټر،دارزانيخوېشکيکليات،پېښور،جدونپرنټنګپرېس،پښتواکېډيمي پېښور،جون ۲۰۰۵ء۲۳۸ مخ

۲۰:https://www.google.com/

۲۱۰:https://www.rekhtadictionary.com

۲۲: پروېز مهجور،- ډاکټر،دارزانیخوښکیکلیات، پېښور، جدون پرنټنګ پرېس، پښتواکېډیمي پېښور،جون ۲۰۰۵ء، ۹۸۷-۹۹۸مخونه
۲۳: پروېزمهجور،- ډاکټر، دارزاني خوښکي کلیات،پېښور، جدون پرنټنګ پرېس، پښتواکېډیمي پېښور،جون ۲۰۰۵ء، ۷۵۱-۷۶۳مخونه
۲۴ :shaheedeislam.com
۲۵:پروېزمهجور،- ډاکټر،دارزاني خوښکي کلیات،پېښور،جدون پرنټنګ پرېس،پښتواکېډیمي پېښور،جون ۲۰۰۵ء، ۲۳۶مخ